## قانوني تعهد
هغه ژمنه ده چې د قا نون په چوکاټ کې دواړو خواوو ته مکلفیت ، مسوولیت او وجیبې را مینځته کړي.
درى: [تعهد قانونى]

## قانوني عمل
هغه عمل چې د یوې ټولنې له قوانینو سره سمون ولري.
درى: [عمل قانونى]

## قابض
هغه فقهي او قانوني اصطلاح ده چې د یو عقد د موضوع د اخیستونکي لپاره ویل کیږي. درى:[قابض]

## قاتل
هغه شخص دی چې د قتل جرم یې ترسره کړی وي.
درى:[قاتل]

## قاچاق
د اموالو او اجناسو له تورید او یا صادرولو څخه عبارت دي چې د قانوني او ګمرکي مراحلو له بشپړېدو پرته د هېواد قلمرو ته او یا له قلمرو څخه بهر واستولی شي او د قانون د احکامو له مخې ممنوع ګرځیدلی وي.
درى:[قاچاق]

## قاچاقچي (قاچاق وړونکی)
هغه شخص دی چې په قاچاق بوخت وي.
درى:[قاچاقچى]

## قاصد
هغه شخص ته ویل کیږي چې د یو حقوقي عمل د سر ته رسولو لپاره یو حقوقي قصد وکړي. (قصد ته دې مراجعه وشي). درى: [قاصد]

## قاصر
هغه شخص چې د هغه په اهلیت کې د عمر له کبله نیمګړتیا موجوده وي او د بلوغ عمر ته نه وي رسیدلی.
درى: [قاصر]

## قاصره حجت
هغه مثبته دلیل دی چې له قانون سره سم یواځې پخپله پر شخص باندې إلزام راوړونکی وي. درى: [حجت قاصرۀ]

## قاضي
هغه څوک دی چې قضایی انسلاک لري او حکم صادروي. درى: [قاضى]

## قاضی الجماعة
هغه قاضي چې د عدالت د اجراء مسوولیت، د بازار څخه څېړنه او د تجارتی قراردادونو د تنظیم مسوولیت دده پر غاړه وي. درى:[ قاضى الجماعة]

## قاطع قسم
له هغه قسم څخه عبارت دی چې د یو عمل پر پېښېدو او یا نه پېښېدو باندې د محکمې له خوا په دعوی کې یواځې یوځل منکر شخص او یا اشخاصو ته متوجه کیږي. درى: [قسم قاطع]

## قاطعه (حاسمه) یمین
له هغه یمین څخه عبارت دی چې د دعوې د یو طرف په غوښتنه د محکمې له خوا بل لوری ته توجیه کیږي د دعوې یا منازعې د قطع کېدو سبب ګرځي او د حکم له اسبابو څخه شمېرل کیږي. درى: [یمین قاطعه (حاسمه)]

## قاطعه قرینه
هغه قرینه ده چې د خلاف اثبات ئې جواز نلري. (قرینې ته دې مراجعه وشي). درى: [قرینۀ قاطعه]

## قانون
عبارت له هغه صریحو او معقولو قواعدو څخه دي چې د حاکمه پلاوي له خوا، د ټولنې د نظم د ساتنې او دوګړو د حقوقو د تأمین لپاره وضع کیږي او تطبیق یی جبر سره دی.
د افغانستان د اساسي قانون د حکم پراساس د ملي شورا د دواړو مجلسونو مصوبه چې د جمهور رئیس له خوا توشیح شوی وي عبارت له قانون څخه دی.
درى: [قانون]

## قانوني اذن
د حجر لـه منځـه وړلـو او د تصـرف د حـق د ممنوعيـت ساقطولو ته ويل کيږي. دری:[اذن قانونی]

## قانوني استحاله
هغه استحاله ده چې مسـتحيل والـی يـې قـانون تـه نسبت ورکول شوی وي. دری: [استحاله قانونی]

## قانوني امارات
هغه نښې دي چې قـانون هغـه پـر يـوه امـر بانـدې دليـل ګرځولی وي (اماره ته دې مراجعه وشي).
دری: [امارات قانونی]

## قانوني امانت
هغه امانت دی چې د قانون په اساس رامنځ ته شوی وي. (امانت ته دې مراجعه وشي). دری: [امانت قانونی]

## قانوني تمسك
هغه استدلال دی چې د قـانون د حکمونـو پربنـا صـورت ونيسي. دری: [تمسک قانونی]

## قانوني حيله
هغه حيله ده چې فاعل د تقلب د قصد لرونکی وي ترڅو د پر دې لاندې يو غير قانوني نتيجې ته متوصل شي
دری: [حيله قانونی]

## قانوني دليل
هغه دليـل دی چې اعتبـار يـې د قـانون د تصـريح (نـص قانون) پر بنسټ وي. دری:[دليل قانونی]

## قانوني شرطونه
هغـه شـرطونه چې قـانون جـوړوونکی وضـع کـړي وي.
دری: [شروط قانونی]

## قانوني عذرونه
هغه عذرونـه دي چې د هغـو پـه موجـب يـې شـخص د وړاندوينه شويو شرطونو له مخې يا په ټوليزه توګه له جزا څخـه معـافيږي او يـا هـم داچـې تخفيـف ومـومي.
دری:[معاذير قانونی]

## قانوني قايم مقام
هغه شخص چې د ناقص اهليت لرونکـو او د محجـورو ، مفقودو او غايبو اشخاصو په استازيتوب په قانوني لحاظ د عقـدونو او تصـرفاتو د سـرته رسـولو واک ولـري.
دری: [قايم مقام قانونی]

## قانوني قراين
د قانون له احکامو سره سم هغو شواهدو او قراينو ته ويل کيږي چې د منازعې د موضوع په اړه قـانون پـه صـريحه توګه ورسره تماس نيولی وي. دری: [قراين قانونی]

## قانوني قياس
د يوه حکم د حالت مقايسه کول او تطبيق يـې پـه مشـابه حالـت بانـدې د قـانون لـه احکـامو سـره سـم دی.
دری:[قياس قانونی]

## قانوني ګرامري تفسير
هغه تفسير دی چې د يو قانون يا يو قرارداد مجملې مادې د ګرامري روش پر اساس تفسيريږي.
دری:[ تفسير ګرامری قانون]

## قانوني مخففه حالات
هغه حالات دي چې پـه قـانون کـې راغلـي او د جـرم د مجازاتو د خفت سبب ګرځي.
دری:[حالات مخففه قانونی]

## قانوني مخففه حالت
هغه حالت چې په قـانون کـې يـې وړاندوينـه شـوې او د محکمې له خوا يې مراعاتول لازم دي.
دری: [حالت مخففه قانونی]

### قانوني مسووليت

عبارت له هغه مسووليت څخه دی چې قانون يې وړاندوينه کړې وي. دری:[مسوولیت قانونی]

### قانوني مفاد

هغه ګټه ده چې لاس ته راوړل يې په قانوني توګه روا وي. دری: [مفاد قانونی]

### قانوني مکلفيت

هغه تکليف دی چې يو شخص د قانون له حکمونو سره سم د هغه په انجامولو مکلف وي. دری:[مکلفیت قانونی]

### قانوني ممانعت

هغه ممانعت دی چې د يو عقد د تنفيذ او يا د هر حقوقي تصرف د نه اجازې ورکولو او خنډ ګرځېدلو په اړه د يو يا ډېرو حقيقي او يا حکمي، اشخاصو له خوا د بل حقيقي او يا حکمي شخص پرضد د استفادې وړ ګرځي.
دری: [ممانعت قانونی]

### قانوني نظام

د هغو منظمو حقوقو، واجباتو يا صلاحيتونو د قواعدو مجموعه ده چې له قانوني مرکزيت څخه منځ ته راځي.
دری:[ نظام قانونی]

### قانوني نيابت

هغې نيابت ته ويل کيږي چې د قانون له مخې ترسره کيږي. دری:[نیابت قانونی]

### قانوني وصف

متهم ته منسوب د مادې فعل تابع والی دی د قانون له نصوصو څخه يوه معين نص ته. دری: [وصف قانونی]

### قانوني وکالت

هغه ډول وکالت دی چې قانوناً يې ولي يا قيم لري.
(وکالت ته دې مراجعه وشي). دری: [وکالت قانونی]

### قانوني وکيل

هغه شخص دی چې د قانون له مخې او پرته له کوم قرارداد څخه امر يا امرونه د بل چا په نوم او حساب ترسره کوي.

(وکيل ته دې رجوع وشي). دری:[وکیل قانونی]

### قانوني ولي

هغه شخص چې په شرعي لحاظ د ولايت د اوصافو او واکمنيو څخه پرته له اذن څخه برخمن او په قانوني توګه د خپل تر ولايت لاندې کسانو په اړوندو چارو کې د عقدونو او تصرفاتو د سرته رسولو صلاحيت ولري.
دری: [ولی قانونی]

### قانونی اهليت

هغه اهليت دی چې يو حقيقي يا حکمي شخص ئې د حق د کارولو لپاره لري. (اهليت ته دې مراجعه وشي).
دری:[اهلیت قانونی]

### قانونی مصوونيت

هغه امتياز چې قانون يې ځينو اشخاصو ته ورکوي.
دری: [مصوونیت قانونی]

### قاهره قوه

هغه حادثې چې د انسان اراده د هغو په راتلوکې هيڅ دخالت نلري او نه د هغو د منع کولو توان لري.
دری: [قوهٔ قاهرهٔ]

### قائيمه عين

موجود مال (عين) دی. دری:[عین قائمه]

### قباحت

له هغه جرم څخه عبارت دی چې ارتکاب کوونکی ئې، له (۲۴) ساعتو څخه تر دريو مياشتو په حبس يا تر دريوزرو افغانيو پورې په نغدي جزاء محکوم شي.
دری: [قباحت]

## قباله

عبارت له هغه رسمي سند څخه دی چې د قانون له حکمونو سره سم د غیر منقول ملکیت د تثبیت او یا توثیق لپاره صادریږي. دری:[قباله]

## قبر

عبارت له هغه ځای څخه دی چې د انسان جسد په کې ښخیږي. دری: [قبر]

## قبض

پر یوه شي باندې د شخص له مالکانه تصرف څخه عبارت دی. دری: [قبض]

## قبول

د دوه یم شخص د ارادې اعلامول دی چې د لومړي شخص د ایجاب د قبلولو لپاره یې څرګندوي. دری:[قبول]

## قتل

قتل په ارادي توګه د یو انسان پر ژوند د بل انسان له خوا تجاوز دی. دری: [قتل]

## قدم

د بست جزء دی چې پر موجب یې د ملکي خدمتونو کار کوونکي د کلنیو اجراآتو له بریالی ارزونې وروسته، په بست کې لوړ قدم (مزد) ته لوړتیا مومي. دری: [قدم]

## قدیم

هغه چې هیڅوک د هغه د لومړني رامنځ ته کېدو د لیدو په توګه علم ونلري. دری: [قدیم]

## قدیم عیب

له هغه عیب څخه عبارت دی چې د هغه د پیدایښت وخت مشتري ته څرګند نه وي او له مخکې څخه په مبیعه کې وجود ولري. دری: [عیب قدیم]

## قذف

په شریعت کې د زوجې متهم کول دي د زنا په عمل سره او یا د هغې ځینې د نسب نفې ده. دری: [قذف]

## قرار

هغه تصمیم دی چې د طرحه شوې موضوع په اړه د شکلي او محاکماتي اصولو له مخې د واکمنو مراجعو له خوا نیول کیږي. دری:[قرار]

## قرار دادی نیابت

هغه نیابت چې د قرار داد په موجب شخص ته ورکول کیږي. دری: [نیابت قرار دادی]

## قراردادي عرف

هغه عرف دی چې د معاملاتو خواوې له هغه څخه د خپلو حقوقي اعمالو د منبع په توګه ګټه ترلاسه کوي. دری:[عرف قراردادی]

## قراردادي ناپلوي

د ناپلوۍ هغه ډول دی چې په یوه قرارداد کې تحت الحمایه دولت ژمنه کوي چې پرته د حامي دولت له نظر څخه هېڅ راز سیاسي پلوي ونلري. (ناپلوي ته دې مراجعه وشي). دری: [بیطرفی قراردادی]

## قراردادی جرم

هغه عمل چې د قوانینو په مطابق جرم نه دی، بلکې د قرارداد پرمبنا د اشخاصو د یوې ځانګړې کټګورۍ په منځ کې جرم ګڼل کیږي. دری :[ جرم قراردادی]

## قرن

هغه زیات هډوکي او غوښه چې د ښځې او نارینه د یو ځای کېدو مانع ګرځي. دری: [قرن]

## قرینه

د یو مجهول امر استنباطول دي له یو معلوم امر څخه. دری: [قرینه]

## قسامه

هغه سوګند دی چې د مقتول جسد چې قاتل يې معلوم نه وي د محکمې له خوا د يوې قريې اوسيدونکو ته چې کم تر کمه پنځوس نفر وي متوجه کيږي. دری:[قسامه]

## قسط

د عدالت په معنی کارول کيږي. دری: [ قسط]

## قسطي پلورنه

هغه بيع ته ويل کيږي چې د هغې په اساس د مبيعې پيسې يا عوض په څو پړاوونوکې، د بايع او مشتري په موافقه د ټاکلې مودې پر اساس صورت مومي.
دری: [فروش اقساطی]

## قسمت (برخه)

يو له بل څخه د دوو يا څو برخو له تميز او تفکيک څخه عبارت دی. دری: [قسمت]

## قصاص

د ژوندانه له ختمولو څخه عبارت او د حق العبد له حقوقو څخه دی چې په عمدي قتل کې د مقتول د ورثې له خوا تر سره کيږي. دری: [قصاص]

## قصور

د يو کار د سرته رسولو او يا د يو شي د ساتلو په اړه د شخص بې پروايي او پاته راتلل دي. دری: [قصور]

## قضا په صلحه

که چېرې موضوع په صلحه او جوړې سره پای ته ورسيږي، هغه ته د صلح په تائيد قضا ويل کيږی.
دری: [قضاء به صلح]

## قضا زدايي

هغه ډول کړنلاره چې له مخې يې جرمي ساده اعمال، ددې پرځای چې د قضا په دستګاه کې حل او فصل شي، د ټولنيزو او صنفي تګلارو له لارې حل او فصل کيږي.
دری: [قضا زدايی]

## قضاء

هغه حکم دی چې په ځانګړو الفاظو او کلمو سره په غوڅ او مبرم ډول د قاضي په واسطه صادريږي.
دری: [قضاء]

## قضاوت

د حکم د اصدار او تنفيذ په اړه د قاضي د فعل څخه عبارت دی. دری: [قضاوت]

## قضايي مشوره

د قاضيانو مناقشه ده چې د محکوميت، برائت او په دعوي کې د تطبيق وړ قانون په مورد کې صورت مومي.
دری: [مشورۀ قضايی]

## قضائي آجندا

د محکمې د کار د اړوندې موضوع يا موضوعګانو له ثبت څخه عبارت ده. دری: [آجندای قضايی]

## قضائي ارتفاق

هغه ارتفاق دی چې د قضأ د حکم پر اساس رامنځ ته شوی وي. (ارتفاق ته دې مراجعه وشي).
دری: [ارتفاق قضائی]

## قضائي استيضاح

د دعوی د دواړه خواوو، شاهدانو او اهل خبرې څخه د وضاحت د غوښتنه ده چې د محاکمې په بهير کې د قضائي جلسې د رئيس له خوا تر سره کېږي.
دری: [ استيضاح قضائی]

## قضائي اعتراف

هغه اعتراف چې د با صلاحيته محکمې په وړاندې صورت مومي. دری:[اعتراف قضايی]

## قضائي علني جلسه

د غورکولو له هغې غونډې څخه عبارت ده چې په هغې کې برسېره پر قضائي هیئت، د دعوی دواړه خواوې، شاهدان، اهل خبره او ژباړونکي ځینې نور کسان هم د محاکمې د بهیر د لیدو لپاره د قانون د حکمونو سره سم ګډون کوي. درى: [جلسه علنی قضائی]

## قضائي غوښتنه

د هغو اجراآتو مجموعه ده چې یو شخص یې د خپل حق د ساتنې او تحقق لپاره په دعوی کې استعمالوي.
درى: [مطالبه قضائی]

## قضائي غونډه

د جوړې شوې آجندا له مخې د دعوې د موضوع په اړه په واکمنه محکمه کې د قاضیانو له ناستې څخه عبارت ده. درى: [جلسه قضائی]

## قضائي مراقبت

هغه مراقبت چې د قضائیه قوی له خوا د قانون د احکامو او هغو نصوصو د تطبیق په باب د قاضیانو په اجراآتو باندی د بشر د حقوقو د ملاتړ لپاره صورت نیسی.
درى :[مراقبت قضایی]

## قضائي معافیت

د مجرم د جزاء ورکولو څخه د قاضي تېرېدل.
درى: [معافیت قضایی]

## قضائي موده

هغه موده ده چې محکمه یې د یوې چارې د ترسره کولو لپاره د دعوی د اصحابو یوې خوا ته ورکوي.
درى: [موعد قضائی]

## قضائي وکالت

هغه ډول وکالت دی چې د اجرأ مامور یې د محکوم له خوا د محکوم به د قبض لپاره لري. (وکالت ته دې مراجعه وشي). درى: [وکالت قضائی]

## قضائی پټه (سري) جلسه

د دعوی د غورکولو هغه غونډه ده چې د محکمې د تصمیم پر اساس د قانون له حکمونو سره سم محاکمه دایره او په هغې کې یوازې قضائي پلاوی د دعوی دواړه خواوې، شاهدان، اهل خبره او ژباړونکي حضور ولري.
درى: [جلسه سری قضائی]

## قضایي اسناد

هغه اسناد دي چې د محکمې په وسیله ترتیب او صادر شوي وي. درى: [اسناد قضائی]

## قضایي انسلاك

هغه سند دی چې د جمهور رئیس له خوا هغه چاته چې د قضاوت د شرایطو وړ وي په رسمي توګه تعویض کیږي. درى:[انسلاک قضایی]

## قضايي پاسپورټ (د منازعاتو حل)

هغه پاسپورټ چې د مدني او یا تجارتي معاملو د تصفیه کولو په مقصد د شخص په غوښتنه د مدني او تجارتي شخړو د تصفیه کولو د اړتیا په هکله د معتبرو سندونو په وړاندې کولو سره د اړوندو مراجعو له خوا د قانون له حکمونو سره سم صادریږي.
درى:[پاسپورت قضایی (حل منازعات)]

## قضايي حدسیات

هغه دي چې په حکم کې د مشاهدې (لیدنې) د تکرار په واسطه ورته اړتیا نه وي. درى: [حدسیات قضائی]

## قضايي رأفت

هغه حالت دی چې محکمه د محاکمې په جریان کې د مجرم د اوضاع، احوال د ارتکابی حالت په پام کې نیولو سره د قانون له حکمونو سره سم د مجرم مجازات تخفیفوی. درى:[رأفت قضایی]

## قضايي رويه

د محاکمو د هغو فيصلو مجموعه ده چی په يوه معين لوري صادر او د وروستني محکمې د تائيد وړ ګرځېدلی وي. دری:[رویه قضایی]

## قضايي ساتونکی

هغه شخص دی چې د محکمې لخوا د دواړو خواوو ترمنځ د شخړې اړوند مالونو د ساتنې او اداري لپاره ټاکل کيږي. دری:[نگهبان قضایی]

## قضايي طرزالعمل

هغه اصول دي چې يوه واکمنه قضايي مرجع د هغو په رڼا کې خپل فعاليتونه تنظيموي. دری:[طرزالعمل قضایی]

## قضايي قرار

هغه قضايي تصميم دی. چې د دعوی ماهيت ته متوجه نه دی صرف څېړنه د دعوی په شکل کې نيول کيږي. دری: [قرار قضائی]

## قضايي مجربات

هغه دي چې د قضايي مشاهداتو (ليدنو) تر تکرار وروسته لاس ته راغلي او د حکم سبب شي. دری: [مجربات قضائی]

## قضايي مرافعات

هغه حالت دی چې يو شخص د محکمې په وړاندې خپله دعوي د حق د لاسته راوړلو لپاره وړاندې کوي. دری:[مرافعات قضایی]

## قضايي مساعدت

د لازمو حقوقي او قضايي کومکونو له برابرولو څخه عبارت دی چې د محکمې له خوا د قضايي مساعد په نامه د يوه شخص ټاکل د هغو بی وزلو لپاره چې په خپلو حقوقي تصرفاتو کې د بيان، افادې او اجراء توان ونلري صورت نيسي. دری: [مساعدت قضایی]

## قضايي مستشار

هغه شخص چې د سترې محکمې په ديوانونو کې د قضايي انسلاک په لړلو سره رسېدلې قضيې تحليل او ارزوي، د موضوع رپوټ او خپل نظر په قضايي غونډو کې وړاندې کوي. دری: [ مستشار قضایی]

## قضايي مشاهدات (ليدنې)

هغه ليدنې دي چې قاضي هغه په خپل ظاهري او باطني حس ليدلي وي او بيا يې ټاکي. دری: [مشاهدات قضائی]

## قضايي وېش

د محکمې له خوا د شريک ملکيت ويشلو ته ويل کيږي چې د څو تنو په منځ کښې د يو يا د زياتو شريکانو د غوښتنې له امله په جبري توګه وېشل کيږي. دری:[تقسیم قضایی]

## قضايي تحقيق

هغه تحقيق دی چې د قاضي له خوا د قضيې د حقايقو د کشف په موخه ترسره کيږي. دری:[تحقیق قضایی]

## قضايی مخففه حالت

هغه حالت چې احراز او عملي کول يې د محاکمو په واک کې دی او د قانون له مخې کولای شي د متهم جزا لږه کړي. دری: [حالت مخففه قضایی]

## قضايی نزاهت

د قضايی دستګاه له مواصفاتو څخه دی چې بايد د قضاتو له خوا د قضا د پاکوالي لپاره د دوی په سلوک (رويه) کې مدنظر ووسي. دری: [ نزاهت قضایی]

## قضيه

هغه قول چې په هغه کې د دورواغو او رښتيا د صدق احتمال موجود وي. دری: [قضیه]

## قطاع الطريقي

د افرادو د مال يا جنس اخيستل دي د زور، تهديد او د سلاح په وسيله په عامه ليار يا هغه ځای او محل کې چې د خلکو استوګنځی نه وي. دری:[ قطاع الطریقی]

## قطعنامه

د يو جوړ جاړي له رسمي تصاميمو څخه عبارت ده چې پيشنهادي او غير التزامي اړخ ولري او د رأی ورکولو له لارې تصويبيږي. دری:[قطعنامه]

## قطعي

د محاکمو هغه احکام دي چه د محکمې په مخکې نزاع پای ته ورسوي. دری: [قطعی]

## قطعي حکم

له هغه حکم څخه عبارت دی چه وروستی حکم وي يا د استيناف او تمييز غوښتنې موارد ورته موجود نه وي او يا يې د استيناف او تمييز غوښتنې نېټې د قانون په حکم تېرې شوې وي. دری:[حکم قطعی]

## قطعی تداخل

هغه حالت چې په هغه کې د څو لاسونو جزاء ګانې په يوه ځای کې تداخل کوي او په يوځل د لاس د غوڅولو حکم صادريږي. دری: [تداخل قطع]

## قطعی رايه

هغه رايه ده چې د اجرأ وړ وي او د حقوقي اثرونو لرونکی وي. دری: [رأی قطعی]

## قلع

د تيري د آثارو نابودی او له منځه وړل دي. دری:[قلع]

## قلمرو

په عامه توګه قلمرو، د حقوقي شخصيتونو تر صلاحيت لاندې ساحې ته ويل کيږي. او د بين المللي عمومي حقوقو د قواعدو له لحاظه هغه ځای دی، چې د يو دولت تر حاکميت لاندې وي. دری:[ساحه يا قلمرو]

## قنات

د ځمکې لاندې د اوبو لاره ده که د نلکو په بڼه وي او يا د ځمکې پرمخ وبهيږي. دری:[قنات]

## قواد

هغه کس دی چې په قوادي بوخت وي. (قوادی ته دې مراجعه وشي). دری:[قواد]

## قوادي

د زنا يا لواطت د فعل د ترسره کولو لپاره د دوو يا تر دوو زياتو کسانو راټولول او ترتيبول دی. دری:[قوادی]

## قولي اجاره

د اجارې هغه عقد چې د صريحو او روښانه الفاظو په بيان سره منعقديږي. دری: [اجارۀ قولی]

## قولي اجازه

هغه وينا ده چې د عمل په انجام يا نه انجام د رائيت دلالت کوي. دری:[اجازۀ قولی]

## قولي تدليس

هغه دروغ دی چې په وسيله يې يو طرف د عقد، د خپل مقابل لورې د غولولو لپاره په کار اچوي. (تدليس ته دې مراجعه وشي). دری: [تدليس قولی]

## قولي دليل

هغه دليل چې د متهم يا شاهد له اقوالو څخه لاس ته راغلی وي. دری: [ دليل قولی]

## قولي فسخ

له هغې وينا څخه عبارت ده چې د عقد د رائيت پر نشتوالي باندې دلالت کوي. دری:[فسخ قولی]

## قولي وصيت

هغه وصيت دی چې په روښانه لفظونو او عبارتونو ترسره شوی وي. دری:[وصيت قولی]

## قولی تصرف

له هغه تصرف څخه عبارت دی چې په وینا کې له شخص څخه صادرېږي. دری:[تصرف قولی]

## قوم

د خلکو هغه جمع چې د نسبي او د وینې د اشتراک پر بنسټ یو بل سره نښلول شوي وي. دری: [قوم]

## قومي سیمه

هغه ځای دی چې په هغه کی د یوه قوم یا نژاد اړوند اشخاص استوګنه لري. دری: [محله قومی]

## قهري اشتباه

هغه اشتباه چې غلبه پرې نا ممکنه وي.

دری: [اشتباه قهری]

## قهری (جبري) ضمانت

هغه مسوولیت چې د هغې په موجب شخص په قانوني توګه، د خپلې نامشروع کړنې او عمل د ترسره کولو له امله د بل په وړاندې د تاوان او خسارې په ورکولو او جبران ملزم وي. دری: [ضمانت قهری (جبری)]

## قهری شریك

هغه شخص چې له یوه شخص یا څو اشخاصو سره په شیانو، مالونو، حقوقو او دیونو کې د قانون له حکمونو سره سم ګډون ولري. دې ډول شخص ته مدني شریک هم وایي.(شریک ته دې مراجعه وشي)

دری: [شریک قهری]

## قیم

هغه شخص ته ویل کېږي چې د واکمنې محکمې د حکم له مخې هغه ته یو امر یا امرونه ورسپارل شوي وي او د هغو په نظم او اداره کې مسوول وي. دری:[قیم]

## قید

هغه محدودیت دی چې په حقوقي تعهداتو کې د عقد له طرفینو څخه په یو یا د عقد د طبیعت له مخی وضع کیږي. دری: [قید]

## قید شوی حقونه

هغه حقونه چې په یو عقد یا حقوقي تعهد کې شرط اېښودل شوي وي. دری: [حقوق قید شده]

## قیمتي شیان(قیمتی مال)

قیمتي شیان هغه دي چې د ډول له مخې یې نظایر یو له بل څخه توپیر لري او یو د بل پرځای کارول کیدای نشي. دری:[اشیای قیمتی(مال قیمتی)

## قیمومیت

له محجورو اشخاصو څخه په قانوني توګه استازیتوب کولو ته ویل کیږي چې د واکمنې محکمې له خوا ټاکل کیږي. دری: [قیمومیت]